# د مشتاق یوسفي پښتانهٔ کردارونه

## Mushtaq Usfi and His Pashtoonic Characters.

**Mohammad Altaf**

**ABSTRACT:** The way Mushtaq Yousufi has performed the Pashtoon Character, other humorists have not seriousness and love with the characters is found in the humorousness of Mushtaq Yousufi. He never makes fun of his character. In Urdu humorousness Pashtoon's character has been made a source of laughter for others and exposed his foolish, where as Mushtaq Yousufi has expressed him with a different look, which certainly adopts the original shape. Same is the subject point in this research paper.

مزاح لیکنه یو ځان ته بېل او ځانګړی فن دی. په دې فن کښې د نورو مهمو ځیزونو نه علاوه کردارنګاري هم زښت اهمیت لري. څومره چې د کردارونو په رغونه او جوړښت ځان وکړولی شي نو دومره په مزاح کښې زیاته مزه رابرڅېره شي. په اصل کښې دغه کردارونه زمونږ په چاپېرچل کښې کټ مټ موجود وي خو منظر عام ته د راویستو دپاره مزاح نګار ته اړتیا لري. دغه ژوندي کردارونه د مختلفو معاشرتي ناهمواریو سره مخ وي. د عصري غوښتنو سره سم نهٔ شي تللی. او د وخت په باره کښې لکه د کوږ لرګي وي چې نهٔ خو څهٔ لچك لري او نهٔ د ژوندانهٔ د پېښو او کشالو سره د سمجوتې کولو اهلیت لري. هغوئ وخت په وخت د خپلو افعالو په ذریعه داسې ګلونه دوړوي چې په اورېدو یا لیدو یې د اورېدونکي یا لیدونکي وښکې ارو مرو تبښتي. او دا شان دغه کردارونه د نور اولس دپاره د وقتي حظ او خوشحالي سوب ګرځي. ولې دغه حظ هغه وخت په تل پاتې خوشحالۍ کښې بدلیږي کله چې دغه کردارونه یو کوټلي مزاح نګار ته په ګوتو ورشي. هغه پرې د خپل فن پاخه رنګونه وشیندي او دا شان هغه دغه کردارونه د خپل هنري شعور په زور امر کړي.

اردو ادب په دې حقله ډېر بختور دی چې ډېر زیات مزاح نګاران یې زېږولي او لوئ کړي دي. چې له مونږ سره یې د خپل چاپېرچل د ځینو نهٔ هېرېدونکو مزاحیه کردارونه معرفي کړي دي لکه د مثال په ډول د رتن نات خوجي، د سجاد، د حاجي بغلول، د امتیاز علي تاج چچا چکن او د پطرس بخاري مرزا د یادونې وړ دي. دغه رنګه د محمد خالد اختر چچا عبدالباقي د

عظـم بېـګ زن مريـد او د شـفيق الرحمـان د شـيطان هـم د دغـه زنځيـر کـړۍ شـميريږي. د ذکـر شـويو ليکوالـو نـه عـلاوه مشـتاق احمـد يوسـفي هـم د مـزاح پـه حوالـه يـو جـوت نـوم دی چـا چـې خپلـو مزاحيـه ليکونـو کښـې يـو شـمېر کردارونـه نـهٔ يـوائې ځـای کـړي دي. بلکـې د دغـو کردارونـو د بيـان حـق يـې هـم پـه بشـپړه توګـه ادا کـړی دی. پـه دغـو کردارونـو کښـې پروفيسـر قاضـي عبدالقـدوس، مـرزا عبـدالودود بېـګ، اغـا تلميـذ الـرحمٰن، بشـارت حسـېن، قبلـه بزرګـوار، يعسـوب الحسـن غـوري، مسـټر اينډرسـن، سـېټ رحيم بخـش، مـس ربمـزډن، خـان سـيف الملـوك خـان او حـاجي اورنـګ زيـب خـان د ذکـر وړ دي. د دې کردارونـو د مطـالعې نـه پـس بنـده پـه دې نتيجـه رسـي چـې دا کردارونـه محـض د خلکـو د خنـدولو دپـاره نـهٔ دي روغ کـړل شـوي. بلکـې لوسـتونکو تـه پـه کښـې دا شـعور هـم ورکـړی شـوی دی چـې دغـه مخصـوص مزاحيـه کردارونـه د ژونـد د عـامو لارو نـه څنګـه او ولـې پـه نـورو لارو سـر شـوي دي. د څهٔ لـه کبلـه چـې پـه دوئ کښـې ځېنـې داسـې خويونـو او صـفتونو وده بيـا مونـدې ده چـې د هغـې لـه وجـې "مـزاح" رادو څـاريږي. هـم دغـه کيفيـت تـه ښـاغلي طـارق حبيـب اولسـي ناموزينـت او زيـات حساسيت وايي.

ډاکټـر اشـفاق احمـد ورك د مشـتاق احمـد يوسـفي د کردارنګـارۍ پـه لـړ کښې د خپلو خيالاتو څرګندونه څه په دا ډول کوي:

"يوسـفي د کردارنګـارۍ پـه ميـدان کښـې لاثـاني دی. پـه دغـه تـرځ کښـې چـې هغـهٔ د خپـل فـن کـوم نيلـی زغلـولی دی د هغـې اثـر هغـه وخـت راډاګـې تـه کيـږي کلـه چـې يوسـفي خپـل يـو کـردار د قـاري مخـې تـه راولـي. د دغـه کـردار د پېژنـدګلوي پـه سلسـله کښـې هغـه اول د قـاري پـه وړانـدې د نااشـنا معلومـاتو او جزيـاتو يـو انبـار ولګـوي او بيـا تـرې د حاضـر جوابـو، پېشـاړو، څـو اړخيـزو معنـو تللـي جوابونـو د نااشـنا تشـبيهاتو، د ژبـې د خـوږو او د همـه رنـګ وهمـه معلومـاتو بـې شماره بڅري مسلسل راپورته کيږي"(۱)

د معاشـرې دپـاره Abnormal خـو پـه خپـل ذات کښـې Super normal دي کردارونـو کښـې دوه کردارونـه داسـې دي لـه کومـو سـره چـې د مشـتاق يوسـفي مينـه پـه هـر ټکـي او هـره کرښـه کښـې دی او بـل حـاجي اورنـګ زيـب د "آب ګـم" يـو ښکلې برخه ده.

اکثـر ادیبـان د پښـتنو کردارونـو پـه ذریعـه د بـې وقـوفۍ او مزاحیـه کیفیتونـو د پیـدا کولـو شـعوري کوشـش کـوي او خلـك خنـدوي خـو د یوسـفي صیب کمـال دا دی چې دا کردارونـه پـه داسـې توګـه پـېش کـوي چې لوسـتونکي تـر دوئ پـورې نـۀ بلکـې د دوئ پـه وجـه پـه عـام اولـس پـورې خنـدا کـوي. او هـم دا خـوبي یوسـفي تـه د نـورو لیکوالـو نـه یـو جـدا مقـام ورکـوي. یـو خـوا د مشـتاق احمـد یوسـفي تعلـق هـم د پښـتنو لـه یوسـفزي قبیلـې سره دی، بـل خـوا پـه علـي ګړهـ، کراچـۍ او لنـدن کښـې د هغـه د دوسـتانو یـوه لویـه حلقـه هـم د پښـتنو ده. پـه دې وجـه د هغـوئ د عـادتونو، خویونـو او د ژونـد ژواك پـه بـاره کښـې یوسـفي تـه د ډېر کړاؤ حاجت نۀ پېښېږي. هغه په خپله وایي:

"د هـر رنګـه لیـك نـه وړانـدې د مشـاهدې، مطـالعې او تجربـې ضـرورت وي چې کلـه مـې علـي ګړهـ کښـې سـبق ویلـو نـو زمـا سـره ډېـر پښـتانۀ سـبقیان وو. دې نـه عـلاوه هـم زمـا نـور پښـتانۀ ملګـري هـم وو. د خپلـې علاقـې د تهـذیبونو او رسـم و رواج بنیـادي معلومـاتو مطالعـه مـې هـم کـړې ده. مـا پـه پښـتو کښـې ټـېې لوسـتې دي. (کومـو سـره چـې د اردو ترجمـه وه) دغـه کتـاب زیتـون بـانو مرتـب کـړی ؤ. دویمـه خبـره دا چې کـوم کـردار هـم پـه تخلیـق کښـې راځـي نـو هغـه پـه ټولنیزه توګـه نـۀ فکشـنل وي او نـۀ حقیقـي. کـه حقیقـي وي نـو خاکـه ده او کـه د سـر نـه تـر پښـو پـورې خیـالي وي نـو نـاول یـا افسـانه ده. زمـا پښـتانۀ کردارونـه د دې د ګـډې نـه جـوړ دي. البتـه د "زرګزشـت" پښـتون کـردار یـو ریښـتوني کـردار دی کـوم چـې زمـا سره په بنك کښې ؤ د مردان اوسېدونکی ؤ"(۲)

مشـتاقي یوسـفي د "زرګزشـت" د خـان سـیف الملـوك خـان کـړۀ وړۀ څـه داسـې وړاندې کوي:

"نـري نروچکـی، دنـګ لـوړ وجـود، پلنـه د هـډوکو ډهانچـه، اوږې یـې لـږې شـان ټيټـې، خـو د ټیټـوالي سـبب یـې عـاجزي نـۀ وه. سـور سـپین رنـګ یـې غرمـو توربخـون کـړی ؤ. پـوزه یـې سـچه پچـه، د "ګنـدهاره" د بتـانو پـه څېـر ثابتـه ورځ بـه پـه سـترګو سـترګو کښـې موسـېدو. رعـب ناکـه خـو خنـده رویـه څېـره پـه مضـبوطه زنـه د وړوکـوالي د ورانـو بـین المللـي نخښـه یعنـي د زخـم نښـان، غوږونـه داسـې لکـه چې پـه جـګ پـورې لاسـکی تپلـی شـوی وي. پـه سـر بـه یې قراقلـي ټـوپۍ پـه یـوه مخصـوص زاویـه کـږه پرتـه وه. د ټـوپۍ دننـه وېښـتو کرښـه بـه د دغـې نـه نـوره هـم

کېږه وه. چې مینځنی برېکټ چې هاغه دغه کړې اورا راپرېباسي نو د هغهٔ به تري جوړ شي. ګوتې به يې د سګرېټو په لګولو لکه د بېرې زېړې وې. دومره دنګ نهٔ ؤ لکه چې ښکارېدو چې خندا به ورغله نو زر به پاڅېدو او بيا به لکه د وکټ کيپر رکوع له لاړو، زنګونان به يې نيولي، سر به يې لك کړی، مخاطب ته به يې بيا بيا کتل او د خندا نه به خوټکېدو"(3)

د مشتاق احمد يوسفي دا کردار په خپل تهذيب، کلتور، قدرونو او پښتونولۍ باندې هېڅ قسمه Compromise ته تيار نهٔ دی. ځکه خو بهٔ يې خپل مېلمه همېشه د سايکل په ډنډۍ مخې ته کښېنوو. چې مېلمه ته شا کول به يې د پښتون تهذيب خلاف ګڼل. د نورو خلکو د لاس د حلال شوي څاروي غوښه به يې نهٔ خوړله. ويل به يې دې سره سړی بې غيرته يو ښځې او منافق کيږي يوسفي ليکي چې:

"عجيبه طبعيت او د بلا زور خاوند ؤ که په ورهٔ چرته Push ليکلی شوی ؤ نو اُلټا به يې ځان پله راکشوله او که پرې Pull ليك ؤ نو بهر ته به يې ټېله کړو. غم دا ؤ چې اکثر ورونه به عيني د هغهٔ په طبع بېرته کېدل او بند بدل. هر شپاړسم منټ پس به يې سګرېټ څکولو. په دې کښې پنځلس مينټه به يې په خپل لاس د سګرېټ جوړول ؤ او يو منټ د څښلو ؤ. د سګرېټ د بلولو نه مخکښې به يې پکی بند کړو. ويل به يې چې هوا سګرېټ زر ختموي او ټول لوګی برباد شي. هغه به ټولو ځناورو او مرغو ته په پښتو کښې ښکنځل کولې. ولې د کوترو سره به يې اردو کښې خبرې کولې. ويل به يې کوتره سيده ده.

د خان سيف الملوك په شان "آب ګم" حاجي اورنګزېب خان هم يو روايتي کردار دی. د خوراك او پوشاك په حقله د خپلو قبايلي روايا‌تو امين دی. د هغهٔ خېټه د اعلي نسل د ګوړدو مقبره وه. اولياء الله چې کوم خشوع او خضوع سره مراقبه او د خدای عبادت کوي. خان صېب د دوئ نه زيات کړاؤ په خپل خوراك کوي. په کومه ورځ چې حلوه و نهٔ خوري نو د مشرانو روحونه ورته په خوب کښې قهرېږي.

اکثر به يې ويل چې که په لمانځه، خوب، خوراك او ښکنځلو کښې راته چا په مټ کښې ټك وکړو نو زما پرې ډز دی. صرف په روژه کښې به يې لاس

اچـول چـې پـه روژه کښـې ښـکنځل منـع وي. د هغـه عقيـده ده چـې د مسـلمان سـره کينـه سـاتل حـرام دی. دې نـه خـو ښـۀ دا ده چـې هغـه مـړ کـړی. د کراچـۍ پـه حقلـه بـه يـې ويـل عجيبـه ښـار دی. پـه دې خـو د سـا اخسـتلو دپـاره هـم ذاتـي کـړاو پـه کـار وي. پـه کراچـۍ کښـې چـې کراچيـوال نـۀ وي او سـمندر يـو نـيم دوه سـوه ميلـه ا خـوا لاړئ نـو د اسـونو او ټرکونـو د منـډې دپـاره ښـار بـد نـۀ دی. کلوروفـارم بوينـول بـه يـې د نارينـه شـان خـلاف ګڼـل. ځکـه خـو بـه يـې بغيـر د کلوروفـارم نـه اپرېشـن کولـو. پـه خنـدا کښـې يـې تصـوير اخسـتل ډېـر ګـران دی. داسـې معلـوميږي چـې د زړۀ د اخلاصـه ډېـر پـه پـړق خنـدل غـواړي. خـو پـه څـه سـوب د خنـدا د منـع کېـدو کوشـش هـم کـوي د عملـه يـې تـر ډېـره وختـه داسـې اوازونـه راوځـي لکـه د بېټـرۍ پـه ختمېـدو چـې سـرې بيـا بيـا مـوټر سـټارټ کـوي. د خنـدا نـه مخکښـې بـه يـې د واسـکټ تنـۍ پرانسـتې ويـل بـه يـې چـې پـه پـردي وطـن کښـې بـه هـره ورځ څـوك تنـۍ ټـك وهـي. وادۀ يـې يـو کـړی ؤ. د ډيـك ګيـرو محکـم ګيـر قائـل ؤ چـې کـور ودانـه يـې ډېـره تنګـه شـوه نـو څـو ځلـه يـې ورتـه وويـل بـل وادۀ وکـړه چـې نـورو تـه هـم چـانس مـلا و شـي. ويـل بـه يـې د قبـايلو ادابـو تقاضـې څـۀ نـورې دي کـه چـرې تـا خپـل څـوك مېلمـه او تپوسـو چـې تـه بـه کلـه ځـې او پـه دې هغـه سـتا خـون و نـۀ کـړو. نـو د هغـه پـه ښـۀ سـرېتوب، پښـتونولي او وينـه کښـې بـه شـك وي. د ژبـې نـه يـې د ګجراتـي، حيـدرابادي او د دلـي د زړۀ پـورو او ټهيټـو ټکـو د اورېـدو نـه دا انـدازه کيـږي چـې د دۀ د شـر او فسـاد زيلـي تـر کومې خـورې دي. فخريـه بـه يـې ويـل چـې: "ازاد قبايـل يـم. اردو خـو مـا د خپلـو ډوبـو شـوي پيسـو د وصـولو دپـاره د کراچـۍ د بيوپـارانو د جنـګ جګـړو پـه وخـت زده کـړې ده. ځکـه خـو بـه د امـن پـه وخـت د هغـه ټولـه Vocabulary بـې کـاره او فضـول وه. فرمايـل بـه يـې چـې بـې د دښـمنۍ او بـدلې نـه خـو د ژونـد هـېڅ مـزه نـه وي يـو نـه يـو دښـمن خـو خامخـام پـه کـار وي. ځکـه چـې دښـمن نـۀ وي نـو بدلـه بـه د چـا نـه اخلـې. بيـا تـر مـودو پـه چـر بانـګ د ورزشـونو، پـه بـالټېوپۍ ښلـو او د بالښـت د لانـدې د تمـاچې دپاسـه خـوب کولـو څـۀ فايـده..؟ ټولـه نېکنـۍ او قيمتـي وسـله بـې کـاره شـي. لنـډه دا چـې د زمـري پـه شـان خلـك د باعزتـه مـرګ پـه ځـای د سـالنډې او قـې دسـت پـه وجـه مـري. طبعـي عمـر تـه خـو صـرف کارغـان، شمشـتۍ، تپوسـان، خـرۀ او هاغـه ځنـاور رسـي د کومـو خـوړل چې شرعاً حـرام دي. خـان صېب بـه دا هـم ويـل چـې تـر څـو سـتا يـو مشـر چـا پـه بـې دردۍ نـه وي مـړ کـړی تـر هغـې تـه د انتقـام مـزه نـۀ شـې اخسـتی. کـه سـتا دښـمن تـا د

وژلـو لایـق هـم نـهٔ ګڼـي نـو د دې نـه زیاتـه د بـې عزتـۍ خبـره بـه بـل څـهٔ وي؟ پـه ایمـان چـې پـه دې خـو مرګونـه کیـږي. د داسـې بـې غیرتـه سـړي دپـاره پـه پښـتو کښـې سـپک ټکـی دی. اکثـر بـه یـې ویـل چـې پښـتو د منـت زارۍ او ژړا، فریـاد ژبـه نـهٔ ده. دا خـو د نـر سـړي چغـه ده. د خـوراك پـه وخـت بـه یـې د خبـرو نـه پرهېـز کولـو اوبـهٔ بـه یـې پـه کښـې نـهٔ څښـلې ویـل بـه یـې هسـې ځـای نیسـي. دال بـه یـې هندوانـه بـدعت او سـبزي خـوړل بـه یـې د چارپایـانو حـق تلفـي ګڼلـه. د کړاهـي ګوشـت دا مطلـب نـهٔ ؤ چـې د کړاهـي غوښـه دي وخـوري بلکـې ډك ګرهـې دي وخـوري. د تنـزري، مـزړې هـډوکي، انګـور او مـالټې، هینـدوانې زړې توکـل بـه یـې خـالص زنانـه اداګـانې ګڼلـې. د خپـل غټـوالي او بـې ډولـۍ (چـې د خـوراك بـې دردي ورتـه ویـل غـوره دي) نـه پـه خپلـه تنـګ ؤ. د سـیل سـپاټو ګرځېـدو شـوقي وو. خـو پـه دې شـرط چـې هـر څلوېښـت قدمـه پـس پـه کښـې دمـه کېـدای شـوه. پـه څـومره وخـت کښـې د دهٔ پـه پرتـوګ کښـې پرتوغـاښ اچـولی شـي پـه دومـره وخـت کښـې سـړی حیـدراباد تـه تـلای راتلای شي.

مشـتاق احمـد یوسـفي د هغـه شخصـیت تـه د تیـري صـدۍ بـت ویلـی دی. او خط و خال یې ورله څهٔ په دې ډول بیان کړی دی:

"خـان صـېب د ښـکلي او درونـد وجـود سـړی ؤ. قـد یـې تقریبـاً شـپږ نـیم فټـه چـې قـولی لـونګی تـرې اوونـیم فټـه جـوړ کـړی ؤ. خـو ښـکارېدو بـه اتـه فټـه. پـه ګـس اننګـي یـې د زخـم هلالـي نخښـه کـه چـرې نـهٔ وای نـو مـخ بـه یـې نیمګـړی ښـکارېدو. د شـهادت ګوتـه یـې پـه بنـد کښـې پرېکـړې وه. د هغـه پـرې شـوې ګوتـه هـم زمـونږ د ثابتې ګوتې نه لویه وه"(4).

د مشـتاق احمـد یوسـفي خصوصـیت دا دی چـې دوئ اکثـر خپـل کردارونـه د مـزاح، لطـف او تربیـې پـه انـداز کښـې وړانـدې کـوي او د دوئ پـه ذریعـه د ډاکټـر اشـفاق احمـد ورك پـه وینـا د حاضـر ځوابـو، پشـاړو، تللـي ځوابونـو د نااشـنا تشـبیهاتو او ډېـرو معلومـاتو یـو ډېـری ودروي. خـو چـې کلـه دا کـردار اخیـري مرحلـو تـه داخلېـږي نـو یوسـفي د طربیـې پـه ځـای د المیـې څادر ورتـه پـه سـر کـړي او لـړه شـیبه وړانـدې چـې د خپـل عملـه دې کردارونـو پـه مـاحول کښـې کومـه شـګفتګي شـیفتګي او خنـدا پړقـا جـوړه کـړې وه د بـې وسـۍ او همـدردۍ شـکل

ودریږي بیا پرې د خلکو ترس کیږي او د خندا په ځای د لوستونکو په سترګو کښې د اوښکو بهیر روان شي.

د مثال په توګه د خان سیف الملوك خان نه د هر قسمه مزاحیه کیفیتونو او خصلتونو د څرګندولو نه پس مشتاق احمد یوسفي د دۀ خوا له نوښار ته راشي نو د طربیې نه المیې طرف ته قصه روانه شي. یوسفي صېب لیکي:

"په سر یې توربخونه، د غوږونو ټوپۍ. چې پوره یې را خوره کړې نو خولۀ په کښې "لېټر بکس" ښکاري د ملېشې قمیص پرتوګ، رانغښتې سپین څادر په اوږه اړولی. د لستوڼو تڼۍ او مصنوعي غاښونه یې غایب وو. د خولې نه یې پوڼۍ جوړه شوې وه. لاس او ګوتې یې لکه د زړې ونې ځیلې. په یوه سترګه شنه بلې شوي کېږه چې د سترګې روغېدلو نه پس یې خلق د رڼا نه د بچ کېدو دپاره لګوي. اوږې راټیټې او په مخ یې د غم دوږې الوتې وې. مونږ د انګېټۍ مخې ته دواړه لاس په ترخونو کښې منډلي دي. بیا هم داسې لګېده لکه چې په پیزار کښې د ګوتو په ځای وارې وې. د هغه پښې په پېښورو څپلو کښې د جرابو نه بې پروا وې. هغه ما ته غارمه کړل او په خپله یو طرفته سیوري ته شو. وخت څنګه ودانۍ ږنګه کړې وه. په دویم ځل مې ورته په زوږ نظر نۀ شو کتلی. ډېر سوچ مې وکړو. پوهېدمه نۀ چې څۀ ووایم اخیر دغه ګرانه هم هغه اسانه کړه وې ویل: "های! یوسفي صېب! دا په تا څه شوي. زما هاغه یار څۀ شو؟.

ما ورته وویل: "تا ډېر تکلیف وکړو ما به موټر راستولی ؤ. په ځواب کښې یې په ګوته ابدالي ته اشاره وکړه کوم چې په موټر کښې په هغه صورت کښې کښېودی شو چې په چت کښې سوری وشي او شپېلۍ لکه د لوګي خانې بره او ځي او د سرو کنځلو لوګی پرې بره خیژي.

تپوس مې وکړو "نن سبا څه کوئ؟" وې یې دا پلیت بوټي مې کرلی ؤ پوره سره پوره اوبه بلکې خپل ټول پراویډنټ فنډ مې ورته لوګی کړو. خو عجبه سر خوږلې منډۍ ده چې فصل ښۀ وشو نو قیمتونه را پرېوتل او چې کله زما فصل چنۍ ووهو نو قیمت وختو. په دغه چپو مې هرڅه لاهو شو. اوس مې طبع هر وخت ګډه وډه وي.

ما یې د سترګې په اپرېشن خفګان ښکاره کړو نو په بله سترګه مسکی شو وې ویل: "او جي! زما سترګه اوس دومره کمزورې شوې ده لکه ستا هغه چې شل کاله مخکښې وه.

څۀ ساعت پس یې د یو پتنوس نه ټوکې اوچت کړو وې ویل "تا له مې بریاني راوړې ده. بچی، مي ورته ټوله شپه رنه کړې پخ کړې ده.

او بهابهي (ورېندار)

هغه ابدالي جخت ونیو او سر یې ټیټ کړو. چې زۀ یې د ځان نه ډېر غمژن ولیدم نو وې ویل:

ما وې چې زۀ به درته ژاړم
تا د بېدیانه سترګې سرې راوړې مینه

دا په تا څۀ وشو؟ نیمه ګنټه وشوه. یوه مصرعه قدرې هم دې و نۀ وېله. څۀ شعر واوروه. زړۀ مې ډېر خفه دی. هغه خبرې هغه شپې ټولې خیالي ماښې شوې هغه ځوان مړ دی ته په خپله څۀ ووایه.

"خاونده! ما د ګلاب ګل کړې
چې د جانان په غېږ کښې پاڼې پاڼې شمه

چې روان شو نو د ملېشې په قمیص یې د ملغلرو امېل راخور شو. په ابدالي یې سر کښېښود وې ویل: "بچې مې ټول واده شوي دي وخت بې وخت شوې دي. منزل نزدې دی. زۀ د اوو کالو وم چې بابا رابانډې دا ټوپک ډزولی ؤ. د پنځه شپېتو کالو کلک ملګری مې دی. دۀ راسره ډېر مصیبتونه زغملي دي. کله کله مې زړۀ له راشي وایم چې دا راسره یو ځای ښخ کړئ. خو بېګا شپه خیال راغی ستا لیدۀ کاتۀ په وړومبي ځل په وطن کښې کېږي. تاسو د اینټك" جمع کولو شوق هم لرئ. د یو دوست، یو پښتون له اړخه دا ډالۍ قبوله کړه. منم چې د کار نۀ دی". خو په یو شرط تاسو زما له طرفه د سرو زرو هغه توتنۍ.... تمغه .... قبوله کړئ کومه چې مې په ژوند هډو په کار نۀ شوه". ژوند هغه له څۀ ورکړۀ هېڅ هم نۀ. د ځان نه زیاتي هېڅ هم نۀ. د ځان نه زیاتي هېڅ هم نۀ. مګر هن! د ژوند تېرولو یو نااشنا انداز، په هر حال کښې د خوشحال اوسېدو او خوشحاله ساتلو حوصله د وفادارۍ او غمخوارۍ چل، هغه د خپلې

سرکشۍ په ذريعه ژوند عزتمن او معتبر کړو. د يادونو او خبرو هغه پانې يې په شا واړولې نو ويره راباندې راغله.

*اک مہک سی دم تحریر کہاں سے آئی*

د ليك په وخت يوه وږمه له کومه راغله

ژوند له هغۀ څۀ ورکړل؟ اوس چې سوچ کوم نو حيران شم چې دومره غريبوالی، داسې نااميدي او د داسې جدايي سره هغه څومره خوشحاله او خاطر جمع ؤ. څومره خوشحالۍ، څنګه څنګه خوشبويانې يې خورې کړې چې نن په لمن کښې نۀ ځايېږي. ګلونه چې کوم د زمکې ځنې اخلي د هغې نه ډېر زيات ورته واپس کوي"(5).

د ښاغلي مشتاق يوسفي دا کردارونه ژوندي کردارونه دي د کومو چې يو يو حرکت او يو يو ټکی يوسفي صېب ډېر په مينه محبت او خوږتيا ليکلی دی. څکه خو ډاکټر محمد طاهر ليکي:

"دواړه کردارونه په اخير کښې د شرافت او انساني دوستي هاغه مثالونه وړاندې کوي چې د لوستونکو حيرانتيا يو په دوه کړي. د دوئ قرباني څۀ داسې وي چې هېرول يې ګران دي"(6).

❁❁❁

# حوالې

(۱) اردو نثر مين طنز و مزاح، بيت الحكمت، لاهور، **2004**ء، مخ **187**.
(۲) راقم الحروف ته انټرويو
(۳) زرگزشت، مکتبه دانيال، کراچۍ، **2004**ء، مخ **115**.
(۴) اب گم، مکتبه دانيال، کراچۍ، **1999**ء، مخ **197**.
(۵) زرگزشت، مکتبه دانيال، کراچۍ، مخ **156**، **157**، **158**.
(۶) مشتاق يوسفي کې ادبي خدمات، شعبه اردو، علي گړه، **2003**ء، مخ **151**.